ښه فکر او غور وکړی چې آخر ددی څه وجه ده ، زه په یقین سره وایم چې ددی بوازینی لامل دا دی چې ستاسی په ذهن کی د عبادت مفهوم او مطلب غلط ځای نیولی دی، تاسی دا فکر کوی چې د سهار له ملا اذان نه مخکی ترماښامه پوری دننه خوراك اونه څښاك نوم روژه ده او همدا صحیح عبادت دی ځکه خو د روژی پوره خیال ساتی چې څومره تکلیف دربانذی راشی بیاهم روژه نه ماتوی لیکن تاسی پدی نه پوهیږی چې وری اوتږی پاتی کیدل اصلی عبادت نه بلکی دعبادت بوشکل دی او ددی مطلب دادی چې پدی سره دستاسی په زړونوکی د الله ویره او محبت پیدا شی ، په تاسی کی دومره قوت پیداشی چې له ګناهونوڅخه ځانونه وساتی اګر که پدی ګناه کی په ظاهره ډیری ګټی تاسی ته ښکاری ، همدا رنګه هغه کارونه و کړی چې په ظاهره تاسی ته نقصان اوتکلیف رسوی مګرالله وربانذی رضا کیږی ، دا طاقت اوقوت هله پیدا کیدای شی چې تاسی د روژی اصلی مقصد وپیژنی او د پوره یوی میاشتی له اوږد مشق څخه ګټه پورته کړی ، لیکن له بده مرغه تاسی د روژی دمیاشتی له تیریدلو سره سم د روژی هغه صفات او مقصد داسی له بیخه وباسی څرنګه چې د ډوډی له خوړلو نه وروسته ګوتی په خوله کی واچوی او بیرته ئې واړوی ، څینی خلك خوله روژی ماتی نه وروسته د ټولی ورځی پرهیزګاری بیرته قئ کوی او اړوی ئې ، اوس نو تاسی پخپله و وایاست چې داسی روژی به تاسی ته څه ګټه ورسوی لکه څرنګه چې د ډوډی په خوراك ترهغه بدن ته فایده نه رسیږی ترڅو چې په معده کی هضم نشی او بیا دد وینی په صورت کی رګوکی تقسیم نشی همدا راز روژه هم ترهغه تاسی ته روحانی قوت نشی دربخښلی ترڅوچې د روژی اصل مقصد مو نه دی پیژندلی همدا وجه ده چې الله تعالی د روژی د نیولو له حکم نه پس فرمائی لعلکم تتقون ، یعنی پرتاسی روژه د دی له پاره فرض کړی شویده چې تاسی متقی او پرهیزګاران شی، داسی ئې ندی فرمایلی چې تاسی به خامخا پرهیزګاران کیږی دا ځکه چې د روژی نتیجه څو دسړی له پوهی او ارادی سره تعلق لری څوك چې د روژی په مقصد ځان پوه کړی او ددی دترلاسه کولو کوښښ وکړی نو هغه متقی کیږی ، خوڅوك چې د روژی په اصل مقصد ځان نه پوهوی نو له هغه نه هیڅ ګټه او تقوی نه شی ترلاسه کولی ، نبی صلی الله علیه وسلم په مختلفو طریقو د روژی اصل مقصد ته د خلکو توجه آړولی او پدی حقیقت بی پوه کړیدی چې له اصل مقصد نه د غافل پاتی کیدو په صورت کی چې بوازی ځان وږی او تږی وساتلی شی هیڅ ګټه نه مرتب کیږی لکه چې فرمائی .

ومن لم یدع قول الزوروالعمل به فلیس لله حاجة فی ان یدع طعامه وشرابه چا چې دروغ ویل او پردروغو عمل کول پرنښود نو الله د ده لوږی او تندی ته هیڅ حاجت نلری په بل حدیث کی راځی چې :

کم من صائم لیس له من صیامه الا الظما وکم من قائم لیس له من قیامه الاالشهر ، ډیر روژه داران داسی دی چې له لوږی ا، تندی نه پرته بل هیڅ ګټه نه ترلاسه کوی او ډیر د شپی قیام کوونکی داسی دی چې د پاسیدو او بی خوابی له تکلیف نه پرته بل هیڅ ګټه ورته نه رسیږی ، د دغو احادیثو مطلب بالکل واضحه دی هغه دا چې بوازی وږی اوتږی پاتی کیدلو ته عبادت نشی ویل کیدی ، اصل عبادت هغه دی چې د خدای (ج) له ویری د الله پاك د قانون مخالفت ونکړی شی او بوازی د خدای (ج) د رضا او ویری په خاطرپه پوره شوق سره د دین پراحکامو عمل وکړی شی کوم سړی چې له دغه عبادت نه غافل پاتی شی نوهغه خپل ځانته دلوږی او تندی تکلیف ورکولونه پرته بی بل هیڅ ندی کړی .

د روژی اصل مقصد ته د رسیدو په باب رسول کریم صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی چې :

من صام رمضان ایماناً او احتساباً غفرله ما تقدم من ذنبه .چا چې په ایمان او احتساب سره روژی ونیولی نو د ده مخکنی او ورروستی ګناهونه بخښل کیږ ، د ایمان مطلب دا دی چې دخدای (ج) په باب چې کومه عقیده لری هغه ئې په ذهن کی تازه وی ، او د احتساب مطلب دا دی چې سړی هروخت پخپلو خیالاتو او اعمالو باندی نظر ولری چې هسی نه دخپل ایمان په خلاف څو قدم نه اخلی په بل حدیث شریف کی راغلی چې : الصیام جُنة و اذکان یوم صوم احدکم فلایرفث ولا یصخب فان سابه احد او قاتله فلیقل انی امرء صائم . روژه د سپرښان دی څرنګه چې سپر د دښمن له وارڅخه د ژغورنی او محفوظ کیدو کار ورکوی همدا رنګه روژه هم دشیطان له وارڅخه دمحفوظ کیدو لپاره وال دی .

د چا چې روژه وی نوهغه ته پکاردی چې دغه سپردی استعمال کړی او له شر اوفساد څخه ده وکړی، که څوك ورته ښکنځلی وکړی او یا ورسره جنګ وکړی نوهغه ته دی ووایی چې ورورره زه روژه یم له ماته دا ته مکوه چې ستاسره پدی غلط کارکی ځان ککړکړم .

په نورو احادیثو کی راځی چې د روژی په میاشت کی باید ډیر زیات د نیکی کارونه وکړی شی په خاصه توګه له نورو مسلمانانو سره د همدردی د زیاتوالی جذبه خو دی خامخا په ځان کی پیدا کړی ځکه چې هغه د لوږی او تندی په حالت کی ددی ښه احساس کولی شی چې پرنورو بندګانو باندی د غریبی اومصیبت په وخت کی څومره تکلیف تیریږی .له حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چې پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم به در مضان په میاشت کی ډیر زیات رحیم اوشفیق و سوال ګر به د رسول الله صلی الله علیه وسلم له دروازی نه خالی لاس نه تله اوهیڅ قیدی به په قیدخانه کی نه پاتی کیده ، په یو بل حدیث شریف کی راځی چې : چا چې د روژی په میاشت کی روژه دارته روژه ماتی ورکړه نو دا د ده ګناهونو دبخښنی او له اورنه د خلاصون ذریعه جوړیږی او دومره ثواب ورته ورکول کیږی څومره چې دغه روژه دارته ددی روژی ثواب رسیږی .

ژباړه عبید صافی

دیوبل کالم زیږنده

کالم لیکنه دژوندیومطبوعاتویوه ښه اوپه زړه پوری برخه ده. په تیره معاصرمطبوعات خودلنډو خوندورو اوطنزوله کالمونو پرته بالکل تیښګړی بریښی. له همدی امله وینو چې سیمه ایزو او بین المللی مشهورو ورځپاڼو او جرائدو خامخاکالمونوته پخپله غبرکی ځای ورکړی اوبه دي. توانیدلی چې دنکره لیکوالو دلنډو لیکنو په واسطه ښه ډیرلوستونکي پیداکړي.

که جګ جګي ئې نه یولی نوه«شهادت» دافغاني مطبوعاتو په اوسني عصرکي ولکه دنورواړخونوپه خپریه دي اړخ کی هم ګبرګتلی اوتوانیدلی چې دنظمونوکالمونوپه نشرولو لوستونکي پیداکړي، داسي لوستونکي چې په مفته مطبوعاتواموخته یاآخته ئې هم اوس په دري کلناري اخبارراخلي اولولی ئې .

یقیناً چې دا لوی بری دی نه بواځي داخبار لپاره بلکه زمونږ دخوریدلي اولس لپاره هم بوزیري لري اوهغه داچي کرم قام تورتکي لولي هغه په خامخا دفکراوسوچ لمن نیسي، دقضایاووااوپیښوپه هکله په علمي تحلیل اوڅیړنه له وچ زور غوره بولي اوپه دي ترتیب به ئې پریکړه اواقدام هم دیوعلمي نظراوپوهي په بناء ولاړوي.

زه دادعوي نه کوم چې یوکالم دوه به زمونږ دبی وزله اوبدنصیبه اولس تقدیربدل کړي. هغه هم په داسي حال کي چې بیسوادي پکی ډیره اوچته ده ، اکثره باسواده وګړي ئې له ملك نه بهراوچي په ملك کي دي هغه په غمونواخته دي. بواځي ډیروړوکي تعداد ته چي په فیصدي کي هم نه راځي د«شهادت» اخبار رسیږي ، په داسي حالاتوکي به نو،کالم څه انقلاب راولي ! البته چي انقلاب راوستلاي نشي خوبی تاثیره به هم نه وي. داچي په دوکان ،بازار، کوراوموټرکي افغان داخبارپه لوستلو بوخت وینی دابولوي اوتیك بدلون دي اوپه دي کي به دکالم د خپله دانده پرمخ بیاتي .

خلك داوردومضمونونو (په عام ډول) دلوستلوحوصله نلري، غواړي په لنډوټکوکي له یوي خبري اوپاپیښي نه چي مستقیماً دهغوي په ورځني ژوندپوري اړي ځان خبرکړي او دکالم لیکونکي کمال همدادي چي دکولای شي پخپل لیك کي دلوستونکو غوښتني ته ځواب ووائي ضرورته ده چي یوکالم دي دتولني دهري طبقي خوښ وي خوداضرور ده چي لږترلږه دلوستونکو یوه ډله دځان کړي اوپه دي ډول ئې دیوي نیکي اومعقولي لیکني په واسطه خبرهم تولني ته رسیدلي وي، هم اخبارته اوهم خپل ځان ته (کامیاب کالم لیکونکي ته دضرورت په وخت کي داخبارچلونکي ډیرڅه ورکوي).

زه دخپل ځان په هکله هیڅ ډول اټکل نشم کولی چي د«شهادت» داوسنیو نکره کالم لیکونکو په ډله کي به ځاي پیداکړاي شم او که نه ! د«شهادت» دقدرمنو لوستونکوکومه فیصدي به خپله کړم اوکه څنګه ! خودامي باوردي چي څه لیکم نوپه هغه کي که نور څه نه وي نوزما دخوږزړه دردا به حتماً تاسی اوري چې تاسي ټولو خوږلوستونکو سره یوځاي دهغه ملت اوخاوري دیوروڼ مستقبل لپاره تویونه وهي چي اوس دري ورې اوتوته دي، نه پري دوست اسره کړي اونه دښمن . سهی ده چي روان حالات زړونه دړیدو ته ته بلکه درپدوته راپولي خودخداي (ج) له رحمت نه ناامیدي له کفرسره برابره ده ، زړونه به دړزیږي ، دوي دي خداي (ج) نه دروي دهمدي زړونو دوزا یوه لیوني امپراطوري دتاریخ کندي ته لیږه کړه ، امیدي چي دهیواد داراسی اوسوکالي دپرښي په سینه ناست دیوان به هم وروسره ملګري کړي ، ان شاء الله

چې کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصراع می زلفی د خوبان کړی

دزړه خواله

د روژی د بختوری میاشتی په را ډیره کیدو که له یو ی خوا پرنفس او دنفسانی هیلو پرکښوی باندی د ژمتی ، زغم او تقوی برغولی ایښود کیږی ، او له پروردګار نه پری دا اجرا ویدلی د غوښتنو ټرون پخیږی ، نو له بل پلوه روژه په دی هم بوه د ګټی اومعنوی ښیګړو د ترلاسه کولو فرصت دی ، چې ترتیریدو وروسته یې مسلمان پرځان باندی د همدی میاشتی د تقوی د ادامی په صورت کی د هیڅ ډول محسوس اونامحسوس بلا د «بو» ویره او اندیښنه نه احساسوی ، ځکه ددی میاشتی د حقوقو پرځای کول له ځانه د الهی مراحمو لاری تاوول دی .

د روژی د فضلیت په باب آیا همدومره بس نه ده ، چې پاك خدای روژه ئې ته پخپل لاس بدله ورکوی او یاهم پخپله همغه ذات د روژه ئې اجرمنی .؟

زمونږ اولس اوتوله دا وخت د زمانی دبهیر سیاسی او ټولنیز وځپو داسی په مخه کړی ، چې ورنه د خلاصون لپاره مو یوه نسخه او علاج هم سودمن نه شو ، نه مو خپل سیاستوال او دملی مشترتابه دعوه ګیر یو حاذق طبیب شو اونه مو پردی طبیبان (!) په علاج کی ریښتنی جوت شول ، د یوه سوکاله ژوند د ځښتنیدو ټولی لاری راپاندی سمدلاسه خوبندی دی، سیاست او سیاسیون خو مو د ژغورنی په دعوی کی پاتی راغلل ، خو چې د دی ملی رنځ د علاج لپاره فرهنګی او ادبی سالمی روزنی ته د مخی کولو او مراجعی د نسخی وراندیزکوو ، هغه هم راسره د فرهنګ له «پښیلښو» سره «حساسیت» لرونکی چارواکی ځکه نه منی ، چې د فرهنګ د تعمیم احتمالی خطرات له سیاسی ګټوسره ټکرخور ګڼی ، حال د ، بی داهسی یو بوزن اوهیت دی .

په دغسی بوکړکیچین او نهیلونکی تورتم کی که مرو بیاهم د روژی د بختوری میاشتی له مسلمو ښیګړو او دژغورنی له نسخونه د خپلو ملی رنځونو د علاج لپاره کارنه اخلو ، نو بیا خو په ټولنه کی د یوه فرهنګیالی او مثقف اولس په توګه نه براځی د ژوند حق نه لرو ، بلکی په لوی لاس به مو پرالهی مراحمو د سوکالو اولسونو شك هم پیدا کړی وی او سپوری به مو پرنورو هم پریو ځی .

ددی لپاره چې د خپلو غمیزو او ملی رنځونو دله منځه وړو لپاره مو یوه پټمنه اوسیخه لارموندلی وی ، راځی چې ددی بختوری میاشتی له برکاتونه په زړه پوری او نهایی ګټه واخلو. بویه که تربه مو انګاژه وکا.

غانځنه

روژه

کموی روژه غوښتنی شهوانی
مضمحل کړی هوسونه نفسانی
د روژی غایه هماغه شی دی ځکه
روژه نه نیسی صغیر ، شیخ فانی

الفت

د ادب وږمې

ددی مخ چلوونکی: محمد آصف «صمیم»

له "ماپانو" نه

تقریظ، سریزه او دیباچه

محمداسلم "سروهی"

دکتاب پیژندنی ښه لار پخپله دیوه کتاب لوستل دی ،لوستونکی ته پکاردی ، چې تیغ په تیغه دکتاب په لوستو سره دکتاب دمنځپانګی (محتوی) تل ته کیوځی . په دغه لټون کی ده ته پکارده ،چې له فکری اونظریاتی تګ وریده لری دهغونوبو پرمختیا وو اوپرسیرونوهرکلی وکړی ، چې پخپل دول اونوع کی یې جوړ وی همدا هغه لارده ،چې لوستونکی پری دکتاب تل ته په کیوتو کی له سریزواوتمهیدونو بیغمه کیږی . چې له تمهیدونواولومړنیو خبرو سره دهغی ګډول نه دی پکار ،بلکی غوره خبره داده ، چې ستاسی پام دی تکی راواړوی ، چې پرغسی لومړنیو فقرو بسته دیوه کتاب له روح سره تا آشنایی ښیی .

تمهیدی یاپیژندګلویزی خبری زیاتره دنقادد زړه له تله راوتی نه وی اودلیکوال (مؤلف ، مصنف) یادوستانو به سپارښت اوغوښتنه لیکل کیږی ،ځکه خو پردغسی لیکنو باندی د راغلی اوخوښی لیکنی پرځای د زور اوسپارت رنګ تیزوی . دغسی تمهیدی لیکنی دکتاب پیژند ګلوی کوی ، نود ستاینی لاس پکی کاریدل له اټکله لری نه دی . برلاسی پیژندګلویزه لیکنه ته یواځی دکتاب تیاره ګوتونه روښانوی ،بلکی دلیکوال اوڅیړونکی د تنتیو ستورنو دګټوهځه هم ده .

په انګلیسی ژبه کی دیوه کتاب تمهید یا سریزی ته داټکی کارول کیږی :

Preface , fore word , preavble , prologue , prolegominam

د Prefac لغوی معنا په سکالیندی کلیسا کی له مذهبی سندرونه مخکی هغی لندی پیژندګلوی ته وایی . چې په عمومی توګه د سندری موضوع را اخلی پر دود او اسلوب یې رڼا غورځوی . اخځونو (ماخذونو) ښودانه یې کوی

Fore Word لغوی معنا وراندی تګ دی ـ دایوه سریزه وی ، چې دراتلونکی مضمون اوموضوع څرګندونه کوی.

Prologue د ډرامی پیژندګلوی ته وایی او هدف یې په ډرامه کی د پیښیدونکیو پیښو او دډرامی دلوبغاړو پیژندګلوی وی ، د پرولوګ وراندی کوونکی په دی ونیا له سترګو نهام (پناه) کیږی ، چې نور نوډرامی اوکتونکیو ترمنځ دیوال کیږی ته ، چې کتونکی پخپله «ډرامی په باب خپل نظر څرګند کړای شی . یعنی داخالی یوه پیژندګلوی ده ،نه پرچا اغیزیری ایستل اودفکر لوری وربښل.

Prolegoe minan ،هغه سریزه یا مقدمه ده ،چې لیکوال اومؤلف یې پخپله لیکی ، اودا پربوه علمی کتاب باندی بوه پیژندګلویزه لیکنه وی ، چې موخه یې دموضوع ځانګړی لوستنه وی .

مقدمی یا سریزی دوه ډوله وی ، یوه هغه چې څیړونکی یالیکوال پکی خپل فنی یامسلکی انددوده (طرزفکر) اودموضوع څرګندونه کوي . دغه راز مقدمی دمعقولو اهدافو له مخی لیکل کیږی او په لوستونبی اثر اودهغی لیکوال دواړه پیژندل کیدای شی . مقدمهٔ بن خلدون اومقدمه شعر وشاعری همدغه ډول مقدمی یاسریزی دي . دابن خلدون په مقدمه کی لیکوال پرخپلی تاریخی نظریی باندی غږیدلی دی. دتاریخپوهنی پرګنو ، دڅیړو تاریخلیکونکیو دتیرو تنو په ګوته کولو اود هغو تیروتنو د عواملو لپسرسری څیړنی سربیره دلوی دوګړیو پرمزاج بیدیانی توب او ښادیتوب ، دمعاش ګټلو پروساپلو، صنعتونو ، علومو اوفنونو اودهغو پراسباپو یې رڼا غورځولی ده .

حالي د شعر و شاعری په مقدمه کی دشعر لویوالی،ښیګړی دشاعری شرطونه ،د راغلي اوراوستي شعرتوپیر، فطری اونافطری شاعري، غزل ، قصیده اومثنوی غوندی موضوعاتو قلم ګرځولی دی. دواړوقلموالو پخپلو خپلو مقدمو کی دموضوع دزړی په باب دخپلو نظرونو په څرګندونه دلوستوکی کار اسانه کړی دی.

دمقدمو بل ډول هغه دی ، چې پخپله لیکوال اوڅیرونکی یې نه لیکی ،بلکی ګوم قلموال دغه پیښی وړی . ددغه راز مقدمو په باب ډاکټر عبادت بریلوی لیکی :

" مقدمه لیکنه سره له دی چې یو هنر دی ، خو بیا هم دادب کوم ځانګړی صنف نه دی . دکومی ژبی په ادب کی د ادب کومه ځانګه نه ده ګڼل شوی . ځکه مقدمه دیوه لیکوال یا اثر په باب خاص یوه پیژندګلویزه لیکنه وی او جو له (شکل) یې رسمی غوندی وی .

دچا په سپارښت اوغوښتنه لیکل کیږی اوهغه خبره یاانګیزه (عاطفی انګیزه) پکی نه وی، چې دیوه ادبی اثر لپاره ضروری وی) .

ډاکټر عبادت هغه مقدمی وراندی کړی دی ، چې مؤلفینو اولیکوالو په نورو لیکلی دی .

چې مقصد اومرخه یې داثر یا د لیکوال داثر ستاینه او پیژندنه وی .

دسریزی اودیباچی ځانله ځانله جوړښت اورغښت وی . داسی چې په دیباچه کی بواځی د اثر اولیکوال پیژندګلوکیږی ، خو په سریزه یامقدمه یې خبره لره وراندی ځی اوڅیړنه اوکره کتنه هم ورسره وی . ډاکټر سیداحسن ذیدی ددیباچی اوسریزی توپیر داسی ښیی :

" دیباچه اومقدمه یوګڼل لوستونکی تیریاسی . ځکه چې دادبی ژانرو نو په توګه ځانله ځانله کره وړه ، او پیژندګلوی لری . مقدمه دیوه لیکوال ژوند پیښی ، کره وړه ، مهال (عصر) او دلایلو سره دتألیف موضوع داسی خپرل دی چې داثرپوره ارزښت څرګندشی . چې ورته دمقدمه لیکونکی انتقادی شعور اوږلید توګه رڼا پربوځی ، ورسره داثر ارزښت هم جوتیږی .

خودیباچه بیا داسی نه ده ، دابواځی دمؤلف یا د هغه داثرد پیژندګلوی وسیله ده . دلیکلو ښه اوجوله یې هم استدلالی نه بلکی بیانی وی .

مقدمی څیړنیزی اوانتقادی لیکنی وی ، چې پرتاریخی دینی ،ټولنیزو ، تهذیبی ، ادبی اوتنقیدی موضوعاتو څیړنه کوی اوکره کتنی رنګ پری زیات تیزوی ."

آل احمد سرور په دی لړ کی په "تنقیدکباهی " نومی اثر کی لیکی :

" دیباچه دکتاب یا یی دمؤلف پیژندګلوی کوی ،ارزښت یې په ګوته کوی . تاکی یې نه (چې دومره دی . یاهغومره) البته په تاکنه کی یې لاس کوی . خومقدمی لږ وراندی ځی اوارزښت یې هم جوتوی اویوه پریکنده خبره پری هم کوی ."

څینی پوهان دیباچه " دیباج " نه دابیله کلمه ګڼی . چې څیری اومخ ته وایی ، یعنی دکتاب دیباچه دکتاب څیره یا مخ دی . لکه مخ اوڅیره چې دانسان ښکلا وی اولکه له څیری نه چې دانسانی شخصیت یوڅه انداز، لګیږی . داسی دیباچه هم دکتاب ډول اوښکلا ده .

او دیباچه په لوستوسره دکتاب ددننی نړی پته لګی .

یعنی دیباچه دلوستونکی په غوږو کی یو ښوری یا ټکی اچول دی . دیباچه کښونکی دکتاب په باب څه زیاته څرګندونه نه کوی . نه یې ښیګړی اوبدګړی په ګوته کوي . داکار څودهغه دریمګړی منادی اوانګازه کوونکی دی . چې د کتاب په باب په لوړ آواز څه ووایي اوله سترګو پټ شی .

د روژي ثواب

خدای به لس څیزونه درکا
شك په دامګر کافرکا

لکه وزیری له موره
تازه وروکی زما وروره

له ګناه به هسی خلاص وی
چې روژه یې په اخلاص وی

که شبه وی ، که حرام وی
تل به خلاص دده ترکام وی

بل به تل رحمت پری اوری
له بلایه یې خدای ژغوری

بل په هره روژه جانه
دی به ورشی ترخانه

دیاقوت محل به مومی
له جهانه به خوښ دروموی

بل که تنده وی ، که لووږه
د قیامت به وی پسری لره

بل به خلاص وی له هیبته
غم به نه کا له قیامته

بل چې وری شی ترګوره
خوښ خرم به وی ای ورووره

بل به ګورکی ډیری حوری
تل به ده ته وی حضوری

بل به هسی مشال ورکه
په صراط چې تری ګذرکه

بل تیاریه ورته خوان وی
چې فراخ تر داجهان وی

ترعرش لاندی به یې ویشی
دی به کښینی باندی ګویشی

که بی شمار کړم نعمتونه
مګروکښم دفترونه

خوشحال خټك

دغونچې درباط وربه وافکېدو دی
قافله د رنګ وبو د روم سباشو

وېړيا څانګړي شهادت ... (calligraphy)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شماره مسلسل (۷٤-۱) سال هژدهم - یکشنبه (۱۵) دلو ۱۳۷٤

قیمت (۳۰۰) افغانی ، (۳) روپیه

احکام دین خودرابیاموزیم

آن چیزهائي که باآن تیمم جانزیاناجانزاست

۱- هماطوریکه به خاك پاك تیمم جایزاست ، به تمام آن چیزها نیزتیمم جایزاست که ازقسم خاك است. تمام چیزهایي که باسوختاندن خاکسترنگردد،ونه نرم گردد، ازقسم خاك است. مانند سرمه ریگ، سنگریزه ،ریگ وغیره ،باهمه این تیمم کردن جایزاست .

۲- باتمام آن چیزهایي تیمم کردن ناجایزاست که ازجنس خاك نباشد،وتمام آن چیزها ازجنس خاك نیست، که باسوختاندن خاکسترگردد، مانند چوب،فلز،طلا، نقره، مس، روي، شیشه، ذغال وهمه فلزات ،پارچه کاغذ،نایلون واجناس پلاستیکي وخاکستر. باتمام اینهاتیمم درست نیست.

۳- باآن چیزهاکه تیمم ناجایزاست، اگربرآنها آنقدرغباربوده باشد که بازدن دست غباربلندشود، یاباگذاشتن دست جذب شده واثرآن معلوم گردد ،درین صورت هم باآن هاتیمم جایزاست. مثلاً غبارروي لباس، چوکي، میزیابربالاي جسم خودانسان غبارباشد باآن تیمم جایزاست .

٤- به چیزهایي که تیمم جایزاست، مثلاً خشت پخته ،سنگ، ظروف گلي وغیره ،اگراین چیزهابالکل تمیزباشد، وذره غباربرآن هانباشد باآن هم تیمم به آن جائزاست .

نبوی لارښوونی

له حـضـرت عـایشی (رض) نه روایت دی چی په حـضـور (ص) باندی به پداسی حـال کی سـبا شـو چی پرهغـه باندی به دکـوروالی په وجـه غـسـل فـرض شـوی و - بیـا به یی د سـبا کـیـدونه پسی غـسـل وکـړ او روژه به یی ونیـوله . دغـه راز په یو بل روایت کی له حـضـرت عـایشی (رض) اوام(رض) دواړونه راغلی دی چی په حـضـور (ص)باندی به دجنابت په حـال کی سـبا شـو او دا جنابت به یی د احـتـلام په سـبب نه وو

(بخاری - مسلم)

نیول شوي یوروشلم : دیوروشلم څخه یوفلسطیني شیخ خپل دعابداتو پواخښي منبع ، څخه مچه اخلي . اکثراً یوغټ شمیر سیلانیان دزیتون غره ته دیوروشلم د زاړه ښار د ننداري له پاره ځي چي دېو څودالرو په مقابل کي دده له اوښ څخه استفاده کوي

درمذاکرات نمایندگان دولت تاجکستان ومخالفان

برای بررسی چگونگی تشکیل کنگرۀ بزرگ ملی توافق شد

مخالفان خواهان انحلال پارلمان واصلاح قانون اساسی اند

نماینده گان دولت تاجکستان وگروه هاي مخالف باایجاد کمیسیون مشترکي براي بررسي چگونگي تشکیل کنگره بزرگ ملت تاجك که قرارات سرآغاز آشتي ملي درین کشورباشد موافقت کرده اند .

براساس گزارش خبرگزاري ایران این توافق روز گذشته درجریان مذاکرات نمایندگان دوطرف درعشق آباد پایتخت ترکمنستان حاصل گردید وبراساس آن قرارشدشش تن اعضاي این کمیسیون ،مقدمات برگزاري کنگره، نمایندگان تمامي مردم تاجك رافراهم سازند .

قرارگزارش، اکبرتوره جان زاده معاون رهبرنهضت اسلامي تاجکستان گفت ملایم شدن مواضع کشورهاي روسیه ، ازبکستان وترکمنستان در قبال بحران تاجکستان وبرگزاري مذاکرات صلح درمثبت شدن نتایج این دور از گفتگوهاکمك کرده است .

وي خواستار انعطاف بیشتر دولت دوشنبه براي نیل به یك مصالحه ملي درکشور شد .

گزارش،افزاید نظروف وزیر امور خارجه ونماینده دولت تاجکستان نیز گفت تشکیل کنگره مردم تاجك مقدمه ئي براي بازگشت آرامش درکشور تاجکستان میباشد .

مخالفان خواهان اصلاح قانون اساسي وانحلال پارلمان تاجکستان وجاي گزیني کنگره مردم به جاي آن شده اند .

درگزارش آمده است که پیرزیالون نماینده سرمنشي سازمان ملل درتاجکستان نیز روزجمعه ازینکه مواضع طرف هاي درگیردرین دور ازمذاکرات به هم نزدیك ترشده است، ابراز خوشنودي کرده وآنراپیشرفت دور پنجم مذاکرات صلح تاجکستان دانست .

این درحالیست که نیروهاي دوطرف (مخالفان ورژیم دوشنبه) در منطقه طویل دره همچنان درحال نبرد هستند .که درین درگیري ها یکصدتن از عساکررژیم دوشنبي طي دو روز گذشته ازسوي مخالفان اسیروخلع سلاح شده اند وتلاش محافظین سرحدي روسیه واردوي تاجکستان براي آزاد کردن این عده بي فایده بوده است .

زنـــده مـانـــدن مـــردم

امادرین شکي نیست که همیشه ضررهاي زیادي به مردم میرسد ولي مشکل است دانسته شودکه آنهابعلت گرسنگي، قحطي ،سردي مشکلات صحي وامراض ویادرنتیجه مجموعه هرسه مشکل، ازبین میروند .

وي افزود منزوي بودن مردم کابل نیز مشکل ودشوار است، مردم کابل شاید بیشترین اضطراب را ازناحیه جنگ وبمباران داشته باشندکه همه را درمعرض خطر قرارمیدهدوهمچنان اضطراب روحي ورواني نیز موجود است که فکر مي کنند تنهامانده اند .

وي افزود درکابل درك این امربسیارمشکل است که چرا جامعه جهاني نتوانسته است حمایت اکثریت رابه حل سیاسي بحران کسب نماید.

وي درمورد آنچه که وي پل هوائي بین پاکستان ومیدان هوائي بگرام توصیف کردگفت این پل به ابتکاراداره بین المللي صلیب احمرو(آي، سي، آر، سي) ایجاد شده ودرشرایطي که راه هاي طولاني ،غیرمصئون وبعضاً باموانع ترافیکي روبروست یگانه راهي که باید به مردم گرسنه شهرکابل رسیدگي شود ازراه هواوازطریق میدان هوائي بگرام است زیرا میدان هوائي کابل مصئون نیست .

وي گفت تمام طیارات حامل مواد کمکي یاازخود (آي ، سي، آر،سي) هستند یاتوسط این اداره به کرایه گرفته شده اند. بقول وي تمام عملیات انتقال وتوزیع تحت کنترول اداره بین المللي صلیب احمرصورت خواهد گرفت وبراي رسانیدن کمك به افغانستان به بیش ازیك راه ضرورت است وازجانب مقامات شمالي افغانستان علامات مثبت داده شده که راه شمال به کابل بازخواهدشد .

امانحوه عملکرد و عبور ومرور تحت بحث قرار دارد .

وي افزود پل هوائي یك راه حل اضطراري است وانتقال مواد ازراه هوا براي جلوگیري از توقف عملیات امدادي وطبي درکابل حیاتي بوده ولي به هیچ وجه راه حل آینده ویاراه متبادل براي ترافیك زمیني نیست . هدف این است که یکهزار تن مواد به کابل انتقال داده شودت عملیه امداد براي دواي سه هفته دیگرادامه یابد .

وي گفت امید واریم که بتوانیم دوباره کردن راه هاموفق گردیم ومواد مددي بیشتر به کابل انتقال داده شود .

عملیات انتقال هوائي باجوانب مختلف مطرح بحث قرارگرفته واجازه آنهاحاصل شده است ولي دراصول گفت وشنود باگروه هاي مختلف درمناطق مختلف سازنده بوده ومردم به علامت صلیب احمروهمچنان هلال احمرکه باآن درافغانستان همکاري میکند احترام میگذارند .

وي اظهارداشت هلال احمردرتمام مناطق فعالیت داشته وباصلیب احمرهمکاري خوب ونزدیك دارد .

طالبان دوفروند طیارۀ ادارۀ کابل راسقوط دادند

میدان شهر- ١٤ دلو :

دوفروند طیاره جیت اداره کابل حین بمباران برمواضع طالبان درمیدان شهرهدف سلاح هاي هوایي این گروه قرارگرفته سقوط نمودند.

گزارش رسیده ازولایت وردگ میدان حاکیست، دیروز (شنبه) حوالي بعدازظهردوفروند طیاره میگ اداره کابل هنگامیکه بر مواضع نیروهاي طالبان درمیدان شهر بمباران میتمودهدف سلاح هاي دافع هواي نیروهاي طالبان قرارگرفته سقوط نمود .

درگزارش آمده است طي این بمباران هوایي تلفات وخسارات به اهالي منطقه ونیروهاي طالبان وارد گردیده که آماردقیق آن تاکنون معلوم نمي باشد .

درین گزارش درمورد سرنوشت پیلوت هاي طیارات چیزي گفته نشده است .

سرمای هوادربرخی ازمناطق امریکا به منفی (٦٠) درجه رسیده است

واشنگتن - ١٤ دلو :

سرماي هوادربرخي از مناطق امریکا دیروز به منفي شصت درجه رسیدکه درقرن حاضربي سابقه خوانده شده است .

قرارگزارش خبرگزاري جمهوري اسلامي، براساس پیشبیني هاي به عمل آمده ظرف (٤٨) ساعت آینده مناطق شرقي امریکاشاهد برفباري شدید خواهد بود وهم اکنون دربخش وسیعي ازمناطق شمالي اینکشور شبکه انتقال برق قطع شده است .

قرار گزارش فرماندار ایالت میسي ستي نیز درایالت مذکور حالت اضطرار را اعلان نموده است .

روسی پوځونه به له گروژنی

دسولي ددي نوي پلان په اړه په گروژني کي دروسانودمزدوري انتظامیي سره خبري اترې وکړي .

نوموړي جنرال نده حرگنده کړي چي دروسي عساکروتل به کله پیل کیږي اوددکوم مهال ویش په اساس به بیرته خپل هیوادته ستنیږي . بل لوري ته خبري منابع رپوټ ورکوي چي په گروژني کي دروسي پوځونو اومبارزو چیچني مسلمانانو ترمینځ په وسله والو نښتوکي خوتنه روسي پوځیان وژل شوي اوڅو ته ټوټپیان شوي دي .

په چیچن کي دروسي پوځ قوماندان وویل ، ددي جمهوریت په هکله دمسکوبه سیاست کي ۱۸۰ درجي بدلون راغلي، اوددي نوي سیاست له مخي به مسکوخپل پوځونه له گروژني څخه وباسي .

محمودمستیری نن

مطبوعاتي کنفرانس کي برخه مسایلو خبري وکړي اوهمدارنگه داهم ندي ویل شوي چي هغه به په پېښور کي له کوموافغاني مشرانوسره گوري .

دهوا له لاری

راغلي . اوددي بمباریوله امله دکابل ښارخوته مره اوټپیان شول. بلي لوري ته کابل ښارته تلونکي څیني لوبي لاري هم دکاروانونو پرمخ بندي دي . دنړیوالو رپوټونو په اساس دکابل ښاریانو (۸۰) فیصده خلك له لوږي اوقحطي سره مخ دي

امریکا تعداد

بیست هزارنفري امریکا مجهز با اسلحه مدرن وپیشرفته به خلیج فارس صادرشده است .

امریکاقبلاً طیارات جنگي خودرا وارد کویت نموده، واکنون کشتي بزرگ جنگي امریکا که درشرق میانه لنگرانداخته شامل بیش ازبیست هزارتفنگداردریایي مي باشد.

ایران حضوربیش ازحدنظامیان امریکایي درمنطقه راخطرجدي براي کشورهاي منطقه مي داند وعراق وبرخي کشورهاي دیگرنیز باحضور امریکایي ها درخلیج فارس مخالفت دارند .

حزب اسلامی

دپاي ته رسیدوغوښته کړي. اواوس هم پدي نظردي چي دنولو خواووپه توافق دیوه قابل قبول عبوري نظام جوړښت اوقدرت واگي هغي ته سپارل،دروان کړکیچ په حل کي مرسته کولاي شي.

احتمال یك جنگ هستوی در

بل کلنتن رئیس جمهورامریکا باارسال نامه اي به ناراسیماراو صدراعظم هند، ازاو خواسته است ازمعاهده عدم گسترش سلاح ذروي حمایت کند اما افسران نظامي هند مي گویندکه صدراعظم هند درمقابل نامه کلنتن هیچ پاسخي نداده است .

ازسوي دیگر نیروهاي اشغالگر هند درسرحد بین پاکستان وکشمیراشغالي تدابیرشدیدامنیتي اتخاذ نموده ونیروهاي بیشتري را به محل آشوب زده سرحدي اعزام داشته اند .

طي جلسه اضطراري ایکه بریاست جنرال «کرشناراو» گورنرکشمیراشغالي وباشرکت افسران بلند پایه هند بهمین منظورتشکیل شد، اوضاع کنوني در سرحدات این کشور و پاکستان تحت غوروبررسي قرار گرفته و یك قطعه مخصوص کوماندو حالات را ازنزدیك مراقبت مي نماید .

جنرال کرشناراو دستورداده هرفردیکه قصد داخل شدن به کشمیراشغالي را نماید باید ازبین برده شود ومناطق سرحدي بسیم هاي خاردار احاطه گردد زیرا هند هیچگونه تهدید وخطري رادرمقابل خودتحمل کرده نمي تواند.

جنگ ذروي گردد، تنها بین هندوپاکستان بوده مي تواند وبس .

هم چنان حکومت جورج بش رئیس جمهورسابق امریکانیزدرسال (۱۹۹۰) میلادي ازاین ناحیه اظهارنگراني نموده وخاطرنشان ساخته بود که کشمکش هاي هندوپاکستان بر سر کشمیراشغالي منتج بیك جنگ هستوي خواهد شد.

روزنامه مذکور مي افزاید که هند با آزمایشات اتمي ازیکطرف مي خواهد حمایت مردم را درداخل بدست آورد وازجانب دیگرخودرا بحیث یك نیروي بزرگ اتمي درجهان تبارزدهد.

درروزنامه اضافه شده که هندباید برموافقت نامه عدم گسترش سلاح ذروي خودرامتعهد بداند و ازگسترش آن در منطقه جنوب آسیاجلوگیري نماید .

درعین حال روزنامه هاي واشنگتن پست وواشنگتن تایمز نیز به پروگرام اتمي هنداشاره نموده مي نگارند، یگانه مانع عمده در مقابل خواست امریکا واکثر کشورهاي جهان که همانا کنترول ومنع آزمایشات هستوي در جهان است برنامه اتمي هند مي باشد .

روزنامه واشنگتن پست مي نویسد که

ایران ، پاکستان وجمهوری های

حکومت ازبکستان نیز طرح تدویر کنفرانس سران کشورهاي اسلامي منطقه رادربرج اپریل سال جاري درتاشکند پیشنهاد نمود .

افغانستان، ایران، پاکستان، ترکیه وپنج جمهوري آسیاي میانه به شرکت درین اجلاس دعوت شده اند .

اززمانیکه پاکستان حایز ... کلیدي درانکشاف و توسعه اقتصادي منطقه شده است . ازبکستان ودیگر جمهوري هاي آسیاي میانه بیشتر آرزومند استقرارصلح درافغانستان شده اند .

جمهوري هاي آسیاي میانه ازروابط نیك سیاسي و اقتصادي با هند بادرنظرداشت سوابق شان راضي بوده اند امابعدازتحولات بعدي پاکستان رانسبت به هند ترجیح میدهند .

باارایه چنین نظرات مشاوروزارت امورخارجه ازبکستان پروفیسور «گوگا خایدویاتوف» طرح صلح خودرا براي حل بحران افغانستان ارایه نمود .

وي که مصروف بازدید ازلاهوراست گفت وزارت خارجه امریکا روي طرحي کارمي کندکه چهارکشور مجزا، ازمجموع کشورهاي پاکستان ، افغانستان وتاجکستان ایجاد کند. وي افزود امریکا طرحي براي تجزیه منطقه تهیه نموده وهند منتظرنقش خود درتحولات بعدي است .

وي گفت :« من معلومات دارم که امریکایي هاازهندي هاخواسته اندکه بخاطر ایفاي نقش وموقف شان دردسته بندي بعدي آمادگي وپیشنهاد رسمي نمایند » وي افزود: هند براین نظرتوافق نموده ومیخواهد بصورت سري درهمین راستا تلاش نماید و مساعي امریکا را سرعت بخشد.

به گفته وي درین طرح کشمیربه حیث کشورمستقل وآزاد در میاید امریکایي هامیخواهند کشورآزاد دیگري بنام بدخشان که شامل بخش هایي ازتاجکستان وقسمت هاي شمال افغانستان باشد ایجاد نمایند . همچنان کشوردیگري بنام سیستان درغرب افغانستان و کشور دیگري بلوچستان شامل قسمت جنوبي افغانستان وقسمت هاي مرزي پاکستان خواهد بود .

دوشادوش این طرح، کشورهاي غربي میکوشند استعمار اقتصادي خود را برمنطقه تحمیل وتحکیم نموده وبااحداث راه هاي خط آهن ازطریق جمهوري هاي آسیاي میانه وافغانستان وپاکستان، کشورهاي آسیایي رابهم متصل سازند .

به قول دوکتور «گوگا» پاکستان یگانه کشوري است که ازنیرومندي کافي براي مقابله بااین طرح بیگانگان برخوردار بوده ومسئله افغانستان باید هرچه زود ترحل وفصل شود .

وي ازپاکستان خواست که دراجلاس تاشکند نقش فعال بازي کند وازین فرصت استفاده نموده اعتماد جمهوري هاي آسیاي میانه را نسبت بخود کسب نماید .

وي باارایه طرح هفت فقره اي براي حل بحران افغانستان، اظهارامیدواري نمودکه اگربه کشورش فرصت داده شود میتواند درحل این بحران کمك کند .

درطرح وي استقرار آتش بس فوري درتمام نقاط افغانستان ، بسته شدن سرحدات ونظارت سازمان ملل درراه هاي مرزي بخاطر جلوگیري ازورود هرنوع سلاح ومهمات بداخل افغانستان ،ایجاد تغییر دروضع فعلي براي جناح هاي درگیر، تاسیس حکومت نماینده موقت درکابل بخاطرتشکیل شوراي قانونگذاري که به همه جناح هاي قومي سهم مناسب درحکومت درنظربگیرد، سپس انتخابات ریاست جمهوري تحت نظارت هیئت سازمان ملل متحد برگزارگردد تارئیس جمهور منتخب ، حکومت مشترك شامل نمایندگان اقوام پشتون ،تاجك ،ازبك وبلوچ تشکیل دهد ودرنهایت امر حکومت داراي سیستم فدرالي براي اداره کشوربیان آید .

وي گفت بخاطر جلوگیري از پیشقدمي کشورهاي غربي، روسیه ازاداره رباني حمایت مینماید اما درواقع هیچ یکي ازآنهانمیخواهند بحران افغانستان حل گردد .

وي افزود : بنابرین ،من روابط دیرینه افغانستان وپاکستان را مطالعه کرده ام وسوء تفاهم هاي زیادي درافغانستان درمورد پاکستان موجود است . بنابرین درشرایط کنوني هیچ گروه افغان نمیتواندصلح را به افغانستان بازگرداند ، مگرپاکستان میتواند درین زمینه نقش خوبي بازي کند .

وي علاوه کرد درین حال به تلاش هاي جدي ودسته جمعي ضرورت بوده وازبکستان حاضر است ازهمه وسایل ممکن درین زمینه استفاده کند .

وي گفت : پاکستان ،ایران وجمهوري هاي آسیاي میانه همه باهم متحدانه تلاش نمایند تاافغانستان را ازوضع جاري نجات دهند .

وي اظهارداشت : براساس برخي توافقات سري، کمپني هاي امریکایي با کشف منابع بزرگ طلا، ذغال سنگ ونفت درمنطقه علاقه نشان میدهند.

بقول وي براساس یك موافقتنامه یك کمپني چندملیتي امریکایي یك معدن طلا را دره ناویي» ازبکستان کشف نموده وازآن سالانه (٦٠) تن طلا استخراج وبه فروش مي رساند. به استثناي (٦٠) درصدآن که به حکومت ازبکستان تعلق مي گیردمقدار مذکوربه کمپنه امریکایي هاقرومیریزد .

پروفیسور «گوگا» گفت : روسیه باجمهوري هاي تازه به استقلال رسیده دراعمارتاسیسات زیربنایي وهمچنان درکشف معادن شان کمك نمي کند، وعلت این امرهنوز معلوم نیست .

وي گفت : ما درنظرداریم به پاکستان برق بفروشیم ازراه بندرکیتي به مزارشریف ،قندهار ،چمن ،کویته ، کراچي واسلام آباد تماس داشته باشیم .

چنین تماس خط آهن درتوسعه صنعتي هردوکشورکمك مي کند و نیازمندي مارا به اموال خارجي پایان میدهد .

مستیری پیرامون

رامفید وسازنده ارزیابي نموده گفت درجریان مذاکرات با طالبان، محمود مستیري به استقرار آتش بس دایمي وخودداري ازدرگیري وبروز خصومت هاي تازه وهمچنان حل منازعات دربین همه جناحهاي متخاصم ازطریق برگزاري مذاکرات وبدون دخالت بیگانگان اشاره کرد

اوکیلوگفت رئیس هیئت سازمان ملل متحد درقندهار باملامحمدحسن والي قندهار ورئیس موقت شوراي طالبان دیدارنمود .

په نصرت مینه کی دحسن قرائت مسابقه پای ته ورسیده

نصرت مینه - ددلوي ١٤ مه :

دحسن قرائت په هغه مسابقه کي چي دشهیدمولوي حبیب الرحمن دحوزي لخوا جوړه شوي وه (۳۰) تنو حافظانو اوقاریانوبرخه اخیستي وه .

دراوسیدلي رپوټ په اساس دغه مسابقه دسهاریه اتوبجو دنصرت مینې دحضرت نعمان بن ثابت په جومات کي پیل شوه چي په هغي کي په لس گونو دقرآن عظیم الشان حافظانوبرخه اخستي وه .

په رپوټ کي ویل شوي د مسابقي دپیل څخه مخکي ورور رحمت الله دنوموړي حوزي فرهنگي مسئول دنوموړو پروگرامونو داهمیت په باب حاضرینوته گټوري خبري وکړي وروسته دنصرت مینې دجامع جومات خطیب مولوي شیرآقا اومولوي حنیف دقرآن عظیم الشان د زدکړي اوپه هغه باندي دعمل کولو په باب دغونډي برخه والوته گټوري خبري اومفصل معلومات وړاندي کړل .

دغونډي په بله برخه کي دحزب اسلامي افغانستان د ښوونې او روزنې رئیس قاضي محمودالحسن « جاهد » دقرآن عظیم الشان دحفظ دفضائلو په باب حاضرینوته معلومات ورکړل چي وروسته بیا دحسن قرائت مسابقه پیل شوه چي په هغې کي دیرش تنه دقرآن عظیم الشان حافظانوگډون درلود .

دغونډي په پاي کي دمسابقي نتائج په لاندي ډول اعلان شول : قاري محمدامین دعبدالحق زوي دامام اعظم دمدرسي زده کونکي دلمړي مقام خاوند ،قاري ذبیح الله دعبدالخلیل زوي دنوموړي مدرسي زده کونکي ددوهم مقام خاوند ،قاري محمدحضرت دسیدعمرزوي دعبدالله بن مسعود دمدرسي زده کونکي ددریم مقام خاوند ، محمدداود اوبوشمیر نورقاریان هم په پرله پسي توگه دنورمقامونوپه گټلو بریالي شول .

وروسته قاضي محمودالحسن «جاهد» هغه جائزي چي دشهیدالمجنیرحبیب الرحمن دحوزي لخوا برابري شوي وي دمسابقي په بریالیو شاگردانوووېشلي اوغونډه ددعائي په کولو سره پاي ته ورسیده .

قاري محمدحضرت

قاري ذبیح الله

قاري امین

تصحیح

دوشهادت»په تیره گڼه کي دي دوکابل اداري دوسلواومهماتو دوه تنه قاچاقبران په الماتا کي ونیول شول» دخبر اووم پاراگراف کي عبدالکریم «پویا» په «عبدالکریم بها» مشهور پرچمي ستمي ، چي دخاد دپنځم ریاست رئیس، کابل والي اوخادوزارت مرستیال و، ولوستل شي .

اعلان فاتحه

حاجي عباس دلجونماینده حزب وحدت اسلامي درپشاوروشاه ولي پسران، غلام نبي برادرشوهروحاجي عبدالله داماد .

نسبت وفات مادرحاجي دلجو که جنازه قبلاً به خاك سپرده شده است به اطلاع دوستان رسانیده میشودکه مراسم اتحاف دعا بروزسه شنبه مورخ ۱۷ دلوسال جاري مطابق ۱۹۹٦/۲/٦ ازساعت ۹/۳۰ صبح الي ۱۲ ظهردره سبین جومات » متصل شیرپاوهسپتال واقع یونیورستي تاون پشاور وفاتحه زنانه درمنزل حاجي دلجوگرفته میشود.